Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

ISSN: 2584-0975 (Online)

Vol.02(03), Sep 2024, pp, 14-19

Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe

*Research article*

# The Reflection of in Narkh (Price) Pashto Rhymed Literature

# په پښتو منظومو ادبیاتو کې د نرخ انعکاس

***Mohammad Ibrahim Hamkar**[*1]**, Ghuncha Gul Mokhles**[2]*

[1]*Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University, Afghanistan*
[2]*M.A Scholar, Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University, Afghanistan*

**محمد ابراهیم همکار**[*۱] **غنچه گل مخلص**[۲]

[۱]پښتو ژبې او ادب څانگه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننگرهار پوهنتون، افغانستان

[۲]پښتو ژبې او ادب څانگه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننگرهار پوهنتون، افغانستان (ماسټرۍ برنامې محصل).

ARTICLE INFO

***Keywords:***

Pashto, Rhyme, Reflection, Jirga (Elder Assembly), Halal Food, Price, Authority

**کلیدي وییونه :** پښتو، نظم، انعکاس، جرگه، حلال پاخه، نرخ، واک.

***Article History:***

Received: 01-08-2024
Accepted: 25-08-2024
Published: 01-09-2024

***Cite this Article:***

Hamkar, M. I., & Mokhles, G. G. (2024). The Reflection of in Narkh (Price) Pashto Rhymed Literature. Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English, 2(3), 14–19. https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i3.360

ABSTRACT

Jirgas and talks grounded on the idea of (Power and Price) are the means by which the issues that arise among the Pashtuns are resolved. The article's goal is to pinpoint the Pashtuns' shared understanding of Narkh (price). It is a field study with a bibliographic focus, and the researcher employed both descriptive and analytical methods to achieve this goal. In any location or nation where there is a dearth of educated individuals, people would always resort to their civil laws in an attempt to resolve disputes or other issues. Among these rules and precepts, the majority of Pashtuns, particularly the tribes centered in Paktia, have a particular folk law known as Narkh (Price), which they frequently apply to resolve disputes. Narkh literally means "price" or "public law." Price, as it is known locally, refers to the customary choice made by the Merakchis (interviewers) to resolve a conflict between two or more individuals, families, villages, or tribes. Regarding societal concerns, there are many different kinds of prices: the cost of heat, the cost of cold, the cost of preparing halal food, the cost of murder, the cost of Quba, the cost of a woman, the cost of a woman on the run, the cost of theft, and the cost of walking off the road. Similarly, the price, or Jirga, has been referenced in literature, both written and oral, and it has served as the basis for poetic theory in this regard.

**لنډیز**

د پښتنو ترمنځ د رامنځته کېدونکو ستونزو حل لارې جرگې او مرکې دي چې د (واک او نرخ) پر اصولو بناء دي. د مقالې موخه مو هم د پښتنو همدغه اصل (نرخ) پېژندنه ده، د څېړنې ډول کتابتوني او ساحوي دی، د بشپړولو پرمهال مې له تشریحي او توضیحي میتود څخه کار اخیستی دی. کله چې په کومه سیمه یا هیواد کې لوستي خلک کم او په نشت حساب وي، د شخړو یا نورو ناخوالو د منځه وړولو او سمون لپاره وگړي حتمي خپلو ولسي قوانینو ته مخه کوي. له دغو قوانینو او اصولو څخه ډېری پښتانه، په ځانگړې توگه پکتیا میشت قومونه د نرخ په نوم یو ټاکلی ولسي قانون لري چې ډېری مهال د ستونزو د هوارې په موخه ترې کار اخلي. د نرخ لغوي مانا بیعه او ولسي قانون دی، په سیمه ییزه اصطلاح کې د دوو یا څو کسانو، کورنیو، کلیو، خېلونو او یا قومونو ترمنځ د راپورته شوي جنجال د هوارولو لپاره د مرکچیانو دودیزې پرېکړې ته نرخ وایي. ټولنیزو مسایلو ته په کتو نرخ ډېر ډولونه لري، لکه د تودې نرخ، د سړې نرخ، د حلالې پخې نرخ، د قتل نرخ، قبا نرخ، د غروالې ښځې نرخ، د تښتیدلې ښځې نرخ، د غلا نرخ، د لارې د پرېښودو نرخ. همدا ډول د نرخ یا جرگې ذکر په لیکني او ولسي ادب کې راغلی دی او په دغه تړاو د شعري تومنې بنسټ یې ایښی دی.

**Corresponding Author*:
Email: Ibrahimhamkar5@gmail.com (*M. I. Hamkar*)
https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i3.360
© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

## ســریــزه

انسان دی چې ستونزې زیږوي او انسان دی چې ستونزو ته د حل لارې لټوي. د شاعر خبره؛ انسان څومره ښایسته دی. هره ټولنه خپل اسلامي –ملي ارزښتونه، دودونه او قوانین لري، پښتو ژبه د پوهولو را پوهولو ترڅنګ یو قانون هم دی. پښتو په خپل ذات کې یوه درنه او پر اصولو ولاړه ژبه ده چې ویونکي یې د ټولنیز او سیاسي ژوندانه په برخه کې د اصولو او مقرراتو ستره سرچینه بولي. پښتو د افغانانو تر منځ د نرخ، لوز، مېړانې او ژمنې ژبه ده او د پښتنو تر منځ دغه ژبه د جرګو او مرکو ستر اعتبار خپل کړی دی، په همدې وجه پښتانه د مرکو او جرګو اوږده مخینه لري. دوی ډېری مهال لویې او وړې شخړې د جرګو پر مټ حل و فصل کړې او دا دود ترنه ژوندی پاتې دی. د همدغه منلي دود له منځه یو اصل چې د پښتنو په څېنو سیمو پورې تړلی، ((نرخ)) دی.

## د څېړنې ارزښت

کلیو او بانډو ته د پوهې په رسېدو او د نوې ټیکنالوژۍ په وسیلې له نړۍ سره د وګړو تړاو ورځ تر بلې د ولسي ستونزو د حل ولسي دودیز قانون د ټولنې د ځوان نسل له ذهنونو څخه لرې پاتې کېږي، دا چې نرخ هم د ټولنې د ستونزو د حل لپاره دودیز قانون دی، د ټولنې له حافظې څخه ورک نه شي او هم مو د فولکلور په یوه برخه کې خوندي ساتلی وي، د دغې ارزښت له مخې نوموړې څېړنه تر سره شوې ده.

## د څېړنې موخې

۱ـ د نرخ په مفهوم مسلکیان پوهول.

۲ـ نرخ، واک او ډولونو یې را سپړل.

۳ـ په پښتو ادب کې د نرخ څرکونه روښانول.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ په پښتو ادبیاتو کې د نرخ په تړاو کوم څرکونه شته؟

۲ـ په ولسي دودیز قانون کې نرخ څه وخت په کار وړل کېږي او کوم ډولونه لري؟

۳ـ د پښتو ادب په منظومه برخه کې نرخ څه ډول انعکاس کړی دی؟

## د څېړنې شالید

کله چې ما د دې ارزښتمنې موضوع په تړاو کار کاوه، لومړی مې د کتابونو او بیا مې له اشخاصوڅخه د کره معلوماتو پیدا کولو هڅه وکړه. د یادې موضوع په تړاو چې لومړی کوم اثر ماته لاسته راغلی هغه د ښاغلي تدبیر دی چې په پکتیا کې د شخړو د دودیز حل لارښود نومېږي نوموړی اثر په ۱۳۹۳ل کال چاپ شوی، په دې اثر کې د نرخ په هکله لنډه شرحه وړاندې شوې ده، داسې په بشپړ ډول څرګندونې پکې نشته، بل کوم اثر چې په دې برخه کې لیکل شوی هغه د وکیل عبدالله اثر دی چې د ((مرکه او څلي په احمدزیو کې)) نومېږي نوموړی اثر په ۱۳۷۶ل چاپ او خپور شوی دی، په دې اثر کې د احمدزیو قوم پورې تړلو مرکو، نرخونو او څلو په اړه څرګندونې راغلې دي، همدا ډول د لنډیو په څېنو ټولګو کې یو څو لنډۍ او بیتونه مخې ته راغلل چې د جرګې او نرخ یادونه پکې شوې ده.

## د څېړنې کړنلار

د څېړنې ډول ساحوي او کتابتوني دی، له تشریحي او پوښتنیز میتود څخه پکې ګټه اخیستل شوې ده. د نرخ په تړاو مې لیکلي آثار ولوستل او په موضوع پورې تړلې خبرې مې ترې د ماخذ په خوندیینه را واخیستې او ورسره مې له ولسي مشرانو سره هم مرکې تر سره کړې دي.

## نرخ

د نرخ د لغوي مانا په اړه عبدالقیوم زاهد مشواني په پښتو پښتو سیند لیکي چې د نرخ لغوي مانا بیعه، قیمت؛ ولسي قانون را ښودل شوی دی (زاهد مشوانی، ۱۳۸۵ل، ۱۰۰۹م).

مخکې له دې چې پر نرخ و غږېږو د جرګې په تړاو د ښاغلي حبیب الله رفیع نظر را اخلو: «زموږ ګران هیواد افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د جرګې په نامه یوه مؤسسه درلودلې چې د ملي ارادې د ښودلو دنده یې تر سره کړې او زموږ لپاره یې د ملي سیاست تاریخ جوړ کړی دی.» (رفیع، ۱۳۷۴ل، ب مخ).

د پښتني جرګو په اصطلاح د دوو یا څو کسانو، کورنیو، کلیو، خیلونو او یا قومونو ترمنځ د راپورته شوي جنجال د هوارولو لپاره د جرګه کوونکو دودیزې پریکړې ته نرخ وایي. یا نرخ یو ډول پښتو سیمه ییز ټولمنلی قانون دی چې جرګه کوونکي د مدعي او مدعي علیه ترمنځ رامنځته شوی جنجال د له منځه وړلو لپاره په کار وړي (اصولي، ۱۴۰۳ل، مرکه) .

د قبیلوي حقوقي او جزایي تعاملاتو قانون تـه نرخ ویـل کېږي. نرخ یوعام مفهوم افاده کوي چې د هغه په چوکاټ کې د ټولو جرمونو حـدونـه او د مجـازاتو ډولونـه او دودونـه څرګنـد دي(عبدالله، ۱۳۷۶ل، ۴۵م).

د نرخ د پیدایښـــت نېټه په څرګنده او یقیني توګه څرګنده نه ده خو داســې ویلی شــو چې نرخ په کلیو او بانډو کې له پېړیو پېړیو څخه له پلرونو او نیکونو څخه را پاتې شـوی او تر ننه پورې را رسېدلی دی. هغه ستونزې او دعوې چې د خلکو تر منځ پیدا کېږي، له پخوا زمانو څخه د نرخ د اصـولو پر اساس حل شـوي دي.(تدبیر، ۱۳۹۳ل، ۱۷۶م).

کله چې په نرخ بحث کیږي، د (واک) مسله حتماً مخې ته راځي، ځکه چې دا د دودیزو پریکړو یو ډول دی، له همدې امله لازمه بولم چې د دودیزو پرېکړو پر یو بل دود (واک) باندې لومړی لنډه رڼا واچوم، بیا نرخ او ورپسې په پښتو ادب کې د نرخ انعکاس تشریح او واضح کړم.

## د سړې نرخ

هغه نرخ ته وایي چې د دوو کسانو تر منځ په کوم شي شخړه را پورته شي او د موضوع د حلولو لپاره د خپل یا د بل کلي څو جرګه کوونکي راغواړي، مدعیان هغوی ته ځوابونه ورکوي. رابلل شوي جرګه کوونکي هغوی ته د دوی له ځوابونو سره سم نرخ ورکوي. د بیلګې په توګه: احمد ګل په جنت ګل دعوه کوي چې زما ځنګله کې دې ونې په غلا وهلې دي. جنت ګل د نوموړي دعوې په مقابل کې وایي چې تا د ونو وهلو اجازه راته کړې وه، په دې صورت کې احمد ګل دېته اړ کیږي چې احمد ګل به جنت ګل ته سوګند کوي، او جنت ګل به د وهلو ونو تاوان ورکوي.

که په دې نرخ د مدعیانو له خوا کوم لوري قناعت ونه کړ بیا په دې صورت کې د تودې نرخ ته مراجعه کیږي (منګل، ۱۴۰۳ل، مرکه).

## د تودې نرخ

لکه څنګه چې په دولتي تشکیلاتو کې د خلکو د حقوقي او جزایي مسایلو د حلولو لپاره درې محکمې په پام کې نیول شوې وي، په همدې ډول نرخ هم له درو مرکو څخه جوړ شوی دی.

کله چې د دوو تنو، دوو کلیو یا قومونو ترمنځ په کوم شي شخړه رامنځته شي او وغواړي چې د نرخ له مخې پرېکړه وشي، لومړی مدعي او مدعي علیه چې په دودیزه اصطلاح کې ورته مدعیان وایي، د کلي دوه یا څو نرخپوه مشران راوغواړي چې د تودې نرخ لپاره مرکچیان ورته مشخص او معلوم کړي، بیا دواړه جانبه یو ځای په مشخص شویو نرخیانو پسې ورځي او هغه راولي.

هغوی د مرکچیانو په مخ کې یو پر بل دعوې کوي، مرکچیان د دوی دعوې په دقت اوري، کله چې د مدعیانو دعوې پای ته ورسیږي، مرکچیان د دوی پر دعوو خپلو کې جار و بحث کوي. کله چې مرکچیان یوې پرېکړې ته ورسیږي، له هغه وروسته مدعیان د پرېکړې اورولو ته را غواړي. باید یاده کړم چې مرکچیان د نرخ ورکولو د مخه مچلغېس په نوم پیسې اخلي او بیا ورته پرېکړه اوروي. د بیلګې له مخې سور ګل مدعي او سپین ګل مدعي علیه دی. سور ګل وایي: «سپین ګل ته مې لس‌لکه افغانۍ په ګټه ورکړې وې، نن یې ترې د ګټې غوښتونکی یم.» سپین ګل د سور ګل د دعوې په ځواب کې وایي: «سور ګل ما ته لس‌لکه افغانۍ راکړې نه دي.»

که په دې ډول مواردو کې د مرکچیانو له خوا سپین ګل ته سوګند کول راجع شي او سور ګل د مرچیانو ورکړی نرخ کوږ یعنې ناسم وبولي او ووایي چې ما خو د پیسو د ګټې دعوه کړې وه، مقابل لوري په ټولو پیسو ځان ساتلی دی، په داسې حالاتو کې دویمې مرکې د رابللو لپاره اړتیا لیدل کیږي. په همدې توګه که دویمې مرکې کوم لوری کوږ یعنې ناسم وباله، بیا دریېمې مرکې رابللو ته اړتیا لیدل کیږي. (منګل، ۱۴۰۳ل، مرکه).

## د خولې ماتولو نرخ

له خولې ماتولو څخه موخه له دعوې تېرېدل دي. کله چې د څه شي په سر شخړه راپورته شي او بیا له مدعیانو څخه کوم لوری له خپلې کړې دعوې څخه تېر شي، دې ته په دودیزه اصطلاح کې د خولې ماتول وایي. کله چې له مدعیانو څخه کوم لوری مقابل لوري ته خوله ماته کړي، د نرخ له مخې په راتلونکې کې د هغه شي بیا غوښتنه نه شي کولی (منګل، ۱۴۰۳ل، مرکه).

## واک

واک له جرګې څخه مخکې یو جوړ شوی ار نه دی خو کله چې یوې شخړې حل جرګې ته راجع شي، د جرګې غړي د شخړې په نظر کې نیولو سره یو څه وړاندېزونه کوي، یو یې واک یا اختیار بولي. واک په دې ډول تر لاسه کیږي چې کله که د شخړې دواړه خواوې د جرګې کوونکو په ټاکلو راضي شي، جرګه کوونکي یو مناسب ځای د خپلې ناستې لپاره ټاکي چې د شخړې په هکله خبرې اترې وکړي. په عمومي ډول واک په دوه ډوله دی. لومړی تویوړی واک، دویم-په ټکي واک (تدبیر، ۱۳۹۳ل، ۴۴م).

## تویوړی واک

دا هغه واک دی چې د شخړې دواړه خواوې جرګه کوونکو ته بې له هیڅ ډول شرط څخه عام او تام واک او اختیار ورکوي (تدبیر، ۱۳۹۳ل، ۴۵م).

توی وړی واک شاعر په یو بیت کې داسې انځور کړی دی:

دغه مې چاړه دغه مې پړی دی
تاته مې توی وړی واک درکړی دی

(کاروان، ۱۳۸۷ل، ۷۰م).

## په ټکي واک

په دې ډول واک کې یو څه شرایط له دواړو خواوو څخه وړاندیز او بیا واک ورته سپارل کیږي. یعنې د تویوړي واک په څېر ټول واک جرګوالو ته په لاس نه ورکوي. دلته مو له واک څخه هدف د دودیزو پرېکړو د دویم ډول یادونه وه چې له نرخ وړاندې یې جرګوال اړین بولي. تر هغې چې د واک له لارې یوه ستونزه حل کیږي، تر هغې

نرخ ته مخ نه اړوي، يعنې د شخړو او ستونزو د حل لومړی لار واک او دويمه لار نرخ دی (تدبير، ۱۳۹۳ل، ۴۶م).

نرخ د دود يو ډول دی، نرخ ټولنيزو بدبينيو د حل لپاره د ولسي پوهې او ولسي تأملاتو يوه ځانګړې حقوقي لار ده چې اشخاص، قبيلې او قومونه پرې مسايل حل و فصل کوي. په هغو ټولنو کې چې له حقوقي لاسوندونو او قوانينو بې برخې دي، هلته نرخ پرېکړه کوي. متل دی وايي: له ښاره ووځه؛ له نرخه نه.

دلته له ښاره وتل دومره لويه خبر نه ده ګڼل شوې، لکه د نرخ له اصولو او مقرراتو څخه سرغړونه کول. په هر صورت، په دې مقاله کې د موضوع لنډوالي او اړتيا له امله غواړم لنډه څېړنه وکړم.

ما چې له ملکانو او د نظر له خاوندانو سره د نرخ په باب خبرې وکړې، نو ويې ويل: «نرخ ټاکلی تاريخ او معلومه نېټه نه لري، خو د پېړيو راهيسې په پښتنو کې د نرخ دود را روان او تر دې دمه را رسېدلی دی. لا يې ريښې غښتلې او ځانګې يې خورې دي چې له منځه تللو رنګ يې لا نه دی کم رنګه شوی، د دوی په وينا نرخ په عمومي ډول په دوو ډولو دی: لومړی د سرې نرخ او دويم د تودې نرخ.» (منګل، ۱۴۰۳ل، مرکه).

## حلال – پاخه

د مدعيانو له خوا راغوښتل شويو مرکچيانو ته په نوبت سره ډوډۍ ورکولو ته په دوديزه اصطلاح کې حلال پاخه وايي. د نرخ له مخې مدعي او مدعي عليه يوازې د درو ورځو لپاره مرکچيانو ته ډوډۍ ورکولی شي او له يادې مودې څخه زيات مرکچيان ميلمه کول له دوديزو قوانينو سره په ټکر کې دي خو په ځينو مواردو کې مرکچيان له درو ورځو زيات د مدعي او مدعي عليه سره پاتې کېدلی شي (منګل، ۱۴۰۳ل، مرکه).

## وکيل نيول

کله چې د چا ترمنځ د څه شي په سر شخړه راپورته شي له مدعيانو څخه کوم لوری له مقابل لوري څخه په ځواب ورکولو کې خپله کمزورتيا درک کړي، په دې صورت کې نامتو ژبغړن کس د وکيل په توګه نيسي. وکيل د مدعي او يا مدعي عليه د يو استازي په توګه دعوه پرمخ وړي او هڅه کوي چې خپل مخالف ته په ځواب ورکولو کې ماته ورکړي او دعوه د خپل مؤکل په ګټه تمامه کړي (منګل، ۱۴۰۳ل، مرکه).

په پښتو ادب کې د نرخ په تړاو ځينې شاعرانو او ليکوالو اشارې راوړې دي چې دلته يې د بېلګې له مخې راوړو.

په پلار مې بله جرګه وکه
په اسانۍ مې دادا کله درکوينه
(اصولي، ۱۴۰۳ل، مرکه) .

پورتنۍ لنډۍ کې جرګه د نرخ لومړنی پړاو دی. کله چې څوک د چا سره خپله لانجه له منځه وړل غواړي، مرکه يا جرګه راغواړي. پښتنو کې که دعوې دي يا نورې شرعي غوښتنې، په اسانۍ يا په لومړي ځل مقابل لوری غوښتونکي ته ځواب نه ورکوي. له همدې امله يوه پښتنه پېغله خپل مين ته دا سپارښتنه کوي چې په لومړۍ مرکې مه نهيلی کېږه! په پلار مې بار بارجرګه وکه، څو ته زما ژوند او زه دې زندګي شم.

د ښو ټوپکو وستاکاره
د ښو ځوانانو خون به ستا په غاړه وينه
(باجوړی، ۱۳۹۰ل، ۱۴) .

پورتنۍ لنډۍ د دعوې لپاره يوه ښه بېلګه ده چې په مقابل لوري شوې ده، ياده لنډۍ کې هم پاملرنه پرته ده، هم دعوه او هم خبر. کله چې په يو چا دعوه وشي که مدعي عليه دعوه حق وګڼله خو شخړه پای ته و نه رسېده نو مدعي او مدعي عليه به سره مرکچيان ښيي او دعوه به د دوی په واسطه خلاصوي. يوه بله ټپه ده، په دې ټپه کې د تور (تهمت) انځور په ډېر فني توګه ترسيم شوی دی. وايي:

نرخ د منګل راسره وکه
په صبريو نرخ مې مه غواړه مه مينه
(اصولي، ۱۴۰۳ل، مرکه).

پورتنۍ لنډۍ کې په نا مستقيم ډول د دعوې رنګ تر سترګو کېږي خو دا دعوه د هغې دعوې په څېر نه ده چې د دوو کسانو زړونه دي يو له بله بد او د دعوې کټونکي شي، بلکې دا د مشروع غوښتنې لپاره په خپل معشوق يا معشوقې د مينې غږ دی چې د کوژدن کېدو په خاطر سره جرګه او د دايمي ګډ ژوند د پيلېدو بهانه شي. د جرګې کولو يو بنسټيز توکی د دوو کسانو ټکر يا دعوې پر مهال په درېيم پرېکړه کول دي .پښتنو کې په درېيم پرېکړه په دې مانا چې نور بايد دعوه غوڅه شي، مدعي او مدعي عليه دې لکه ورونه ژوند کوي خو پر لانجې ختميدو سربېره وياړ د هغه چا په برخه دی چې درېيم ګړي ورته د نااملاميتيا ګوته نيولې، په اصطلاح مقابل لوری د ده پر وړاندې پړ بلل شوی. همدې ټکي ته مشر خان ناظر اشاره کوي:

پـه درېيـمـګـړي مـې رقيـب او جـانـان دواړه ګـرم کـــــړل
غمازه شــــــويــــــو فــــــيـــــصـلـو کــــې کـانـې مـه ټکوه
(اظر، ۱۴۰۳ل، ناچاپ).

موږ په نرخ کې د غړوالي خبره هم وکړه، د غړوالي نرخ خو د ورځې له بيې څخه دوه چنده روپۍ اخيستل دي خو کله ـ کله داسې هم کېږي چې د جينۍ کورنۍ همدغه هلک ته له خور او لور ورکولو څخه انکار وکړي، څرګنده ده چې له انکار يعنې ستنولو وروسته به يوه ورځ همدغه جينۍ کوم چا ته ورکوي، بل چا ته د داسې جينۍ ودول ډېری وخت د سر په بيه تماميږي، لکه:

موريې لنډۍ ټوپک مې راکړه
په ما مينه جينى بل ته ودوينه
(اصولي، ۱۴۰۳ل، مرکه) .

اروابناد گل پاچا الفت بيا خپل ولس ته د خبرو اترو سپارښتنه کوي چې دغه کار د جرگې په واسطه کېدای شي، که چېرته جرگه پر دلايلو او سم فکر پرېکړه و نه کړي بيا نو خبره جنگه جگړو او چړو ته لارپيدا کوي او په ټولنه کې د فتنو ور پرانستل کېږي:
کــه پــه بــرهــان او دلايــلــو فـيـصـــلــه و نــه شـــوه
غـوڅـه او پـرېـکـړه د چـړو تـورو لـه خـولـې نـه وځـي
( الفت، ۱۳۷۵ل، ۱۹۰م).

حمزه شينواری بيا د پښتنو جرگه پر يو ملي قانون سربېره د مينې په رنگ کې رنگ کړې ده او ښايسته تغزل يې ترې جوړ کړی دی:
لــه خــپــلــو اوښـــکــو اوســـېــلــو سره ځــم
کښـــلــي اشـــنـــا تــه لــه ســـلــگــو سره ځــم
ځــو چــې راتــول پــه يــو مــرکــز يــې نــه کــړم
هـــرې تـــپـــې تـــه لـــه جـــرگـــو سره ځـــم
(شينواری، ۱۹۵٦ز، ۵۲م).
(پښتو لنډۍ) اثر کې هم د جرگې په تړاو لاندې لنډۍ راغلې ده:
ځان مې په خاورو کې نور پټ کړئ
لاس يې ښکاره کړئ چې جرگې پرې سر کوينه
(زيارن، ۱۳٦۳ل، ۱۴۵م).

### مناقشه

کله چې ما د دې ارزښتمنې موضوع په تړاو کار کاوه، لومړی مې د کتابونو او بيا مې له اشخاصوڅخه د کره معلوماتو پيدا کولو هڅه وکړه. په پکتيا کې د شخړو د دوديز حل لارښود چې د ښاغلي تدبير ليکنه ده، د يادې موضوع په تړاو يوازې د نرخ په هکله لنډه شرحه لري، داسې په بشپړ ډول ځرگندونې پکې نشته چې نرخ ډولونه او هر اړخيزه څېړنه او شننه يې تر سره کړې وي، همدارنگه وکيل عبدالله په خپل اثر مرکه او ځلی په احمدزيو کې نوموړي يوازې د احمدزيو قوم پورې تړلو مرکو، نرخونو او ځلو په اړه ځرگندونې کړې دي، خو د نورو پښتنې قومونو د نرخونو په تړاو يا يې د پښتو په منظومه برخه کې د انعکاس څه نه دي روښانه کړي. همدا ډول د لنډيو په ځينو ټولگو کې يو څو لنډۍ او بيتونه مخې ته راغلل چې د جرگې او نرخ يادونه پکې شوې ده، خو شرحه او سپړنه يې تر دې دمه چا نه ده کړې، زما د کار بېلوالی له هغو سره په دې کې دی چې دې څېړنيزې ليکنې په چوکاټ کې يوازې په پښتنې ټولنې پورې تړلې نرخې مسايل څېړلې دي او د نړيوالو لپاره مې د پښتنو دوديز قانون ور پېژندلی دی او تر څنگ يې د پښتو ادب په ليکلي او نالیکلي منظومه برخه کې د هغو منظومو بيتونو شرحه هم وړاندې کړې ده چې نرخونو يادونه پکې شوې ده. نو په دې اساس سره ويلی شو چې د نرخ په تړاو ټول ترسره شوې پخوانې کارونه او ليکنې زما د ليکنې سره يو ډول نه يو ډول توپير لري، ما په خپله څېړنيزه ليکنه کې د نرخ مختلف انعکاسات د ادب په لمنه کې تر څېړنې او سپړنې لاندې نيولي دي.

### پــــايــلــه

کله چې په کومه سيمه يا هيواد کې لوستي خلک کم او په نشت حساب وي، د شخړو يا نورو ناخوالو د منځه وړولو او سمون لپاره وگړي حتمي خپلو ولسي قوانينو ته مخه کوي.

له دغو قوانينو او اصولو څخه ډېری پښتانه، په ځانگړې توگه پکتيا ميشت قومونه د نرخ په نوم يو ټاکلی ولسي قانون لري چې ډېری مهال د ستونزو د هوارې په موخه ترې کار اخلي. د نرخ لغوي مانا بيعه او ولسي قانون دی، په سيمه ييزه اصطلاح کې د دوو يا څو کسانو، کورنيو، کليو، خېلونو او يا قومونو ترمنځ د راپورته شوي جنجال د هوارولو لپاره د مرکچيانو دوديزې پرېکړې ته نرخ وايي. ټولنيزو مسايلو ته په کتو نرخ ډېر ډولونه لري، لکه د تودې نرخ، د سړې نرخ، د حلالې پخې نرخ، د قتل نرخ، قبا نرخ، د غېروالې ښځې نرخ، د تښتيدلې ښځې نرخ، د غلا نرخ، د لارې د پرېښودو نرخ .

همدا ډول د نرخ يا جرگې ذکر په ليکني او ولسي ادب کې راغلی دی او په دغه تړاو د شعري تومنې بنسټ يې ايښی دی.
د جرگو او نرخ ذکر زمونږ په ولسی او ليکني دواړو ادبي آثارو کې راغلی دی، په دې سره د پښتنو سيمو ډېری ستونزې د مشرانو له خوا له منځه ځې. تر اوسه هم د جرگو په واسطه ډېری سياسي، ټولنيز او سيمه ييز مشکلات د جرگو پر مټ له منځه ځي.

نرخ يا جرگه په پښتو ادب کې يوه مهمه موضوع ده، د پښتنو ډېری شخړې او ستونزې تر دې دمه هم د نرخ يا جرگې له لارې حل کېږي. په ولس کې داسې خولور او پوه شخصيتونه اوس هم شته چې دغه کار پر مخ وړي.

### وړانديزونه

۱- هڅه دې وشي، چې په هره پښتنه سيمه کې دې د نرخ يا جرگې د قوانينو په تړاو څېړنه وشي.

### ماخذونه


اصولي، الحاج عبدالمير. (۱۴۰۳ل) . مرکه . د غويي (۳۰مه). د پکتيا ولايت ځمکنيو ولسوالی د تنې اندړو کلي قومي مشر. [د څېړونکي شخصي اړيکې].

اظر، م. خ. (۱۴۰۲ل) . د لونگو لپه. (ناچاپ اثر).

باجوړی، ب. (۱۳۹۰ل) . لسم ټولگي پښتو . کابل: د پوهنې وزارت تاليف او ترجمې رياست.

تدبیر، م. ن. (۱۳۹۳ل) . په پکتیا ولایت کې د شخړو دودیز حل. کابل: (USIO) د اړیکو دفتر.

رفیع، ح. ا. (۱۳۷۴ل) . د افغاني جرګو اجتماعي او رواني ارزښتونه . پېښور: د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه.

زاهد مشواڼی، ع. ق. (۱۳۸۵ل) . پښتو پښتو سیند. دانش خپرندویه ټولنه.

زیارن، ش او ملګري يې . (۱۳۶۳ل) . پښتو لنډی . کابل: د افغانستان علومو اکاډیمی، ژبو او ادبیاتو مرکز، پښتو ټولنه.

شینواری، ح. (۱۹۵٦ز) . غزونې . پېښور: اداره اشاعت سرحد پشاور.

عبدالله . (۱۳۷٦ل) . مرکه، نرخ او څلی په احمدزیو کې . پېښور: الفلاح پرنتینګ پرېس.

الفت، ګ. پ. (۱۳۷۵ل). الفت مرغلرې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

کاروان، پ. م. (۱۳۸۷ل) . چنار خبرې کوي . پېښور: دانش خپرندیه ټولنه.

منګل، ح. (۱۴۰۳ل) . مرکه . د غويي (۲۸مه). د پکتیا ولایت څمکنیو ولسوالۍ د منګلو الواړي کلي قومي مشر. [د څېړونکي شخصي اړیکې] .